PASHTO

folkhögskola.nu
ALLA SVERIGES FOLKHÖGSKOLOR

# د غتو افرادولپاره د زدکړو عمومی موسسه

## د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسه کی تدریس د زدکوونکو د اړتیاوو، د پخوانیو زدکړو او تجریبو په اساس جوړیږی. په یوه د غتو افرادولپاره دعمومی زدکړو په موسسه کی زدکړی وړیا دی. د غتو افرادولپاره د زدکړو په ټولو عمومی موسسوکی تاسی کولای شی د لیسی مضامین (gymnasiekompetens) ولولی او د لوړو زدکړو لپاره صلاحیت ...

**... (BEHÖRIGHET) په لاس راوړی. د غتو افرادولپاره د زدکړو عمومی موسسی مستقلی دی او د کورسو عرضه د یوه ښوونځی نه تر بل ښونځی پوری توپیر لری.**

### عمومی کورس

د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسه کی څو ډوله کورسونه موجود دی. تر ټولو نه عادی کورس عمومی کورس (Allmän kurs/ Behörighetsgivande kurs) دی ، چه تاسی کولای شی هغه په ټولو د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسوکی کی ولولی.
په عمومی کورس کی تاسی کولای شی د لمړنی او لیسی ښوونځیو مضامین ولولی او همدا راز داسی صلاحیتونه په لاس راوړی چه وکولای شی د پوهنتون او لوړو ښوونځیو د شمولیت عریضی ورکړی. تاسی به د نورو مضامینو په جمله کی داسی مضامین لکه سویډنی، انګلیسی، ریاضی او ټولنه پیژندل هم وایی. که تاسی یو عمومی کورس وایی نوتاسی کومه شهادت نامه (betyg) په لاس نه راوړی. د هغی په ځای د کورس برخه اخیستونکی داسی یو تشخیص لیک (studieomdöme) په لاس راوړی چه خاص د غتو افرادولپاره د زدکړو د عمومی موسسو لپاره دی.

### مشخص کورسونه

د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسه کی تاسی کولای شی مشخص کورسونه (Profilkurser) هم ولولی، هلته تاسی کولای شی په یوی مشخصی د خپلی خوښی په برخه کی مفصلی زدکړی وکړی. یومشخص کورس کیدای شی چه د موسیقی، میډیا، هنری لاسی صنایع ، تیاتر یا ژبی په هکله وی. په مشخص کورس کی تاسی نه شی کولای د صلاحیت کوم مضمون ولولی، همدا راز تاسی نه شی کولای کوم تشخیص لیک په لاس راوړی.

### مسلکی زدکړی

د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسه کی ډیری مسلکی زدکړی(yrkesutbildningar) هم شته دی. شاید تاسی غواړی ژورنالیست، د تفریحاتو لار ښوونکی، د تداوی مرسته کوونکی یا شخصی مرسته کوونکی شی. د هیواد د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسو کی د مسلکی زدکړو لیست به نور هم اوږد وی.

### لیلیه او له لری واټن څخه زدکړی

د غتو افرادولپاره د زدکړو ډیری عمومی موسسی داسی لیلیی لری چه هلته زدکوونکی د زدکړو په بهیر کی ژوند کوی. آیا تاسی نه شی کولای د غتو افرادولپاره د زدکړوعمومی موسسو ته ځان ورسوی؟ دا باید کوم خنډ نه وی. له لری واټن څخه د زدکړو (distanskurser) یوه پراخه عرضه موجوده ده چه تاسی بی له دی نه چه په جسمی ډول هلته وی، په هغه کی برخه واخلی.

### لګښتونه، د شاملیدو شرایط او تحصیلی معاش

خپله زدکړی د غتو افرادولپاره د زدکړوپه عمومی موسسو کی وړیا دی. اما تاسی باید د درسی کتابو او نورو درسی موادو چه د کورس د پوره زدکولو لپاره لازمی دی، لګښت په خپله غاړه واخلی. د غتو افرادولپاره د زدکړو ځنی عمومی موسسی د غرمی د ډوډی حتمی پیسی اخلی. که چیری تاسی د زدکړو په موده کی په یوه لیلیه کی ژوند کوی نو تاسی باید د لیلیی او ډوډی مصرف هم ورکړی. د زدکړی په اړه د ځینو احتمالی سفرو مصارف هم باید تاسی ورکړی.

هر څوک چه عمر یی د ۱۸ کلو نه زیات وی، کولای شی چه د غتو افرادولپاره د زدکړوپه یوه عمومی موسسه کی زدکړی وکړی. په ځنی حالاتو کی تاسی چه عمر مو تر ۱۸ کالو ټیټ دی هم کولای شی په یوه د غتو افرادولپاره د زدکړوپه عمومی موسسه کی زدکړی وکړی.
د دی لپاره باید ستاسو ښاروالی د ستاسو د ځای لپاره پیسی ورکړی.

په پام کی ولری چه ټول درسونه په سویډنی ژبه دی. د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسه کی د زدکړو لپاره تاسی باید اقلا سویډنی د مهاجرینو لپاره (SFI) لمړیه مرحله لوستلی وی یا د هغه مساوی پوهی ولری. د هغو مهاجرینو لپاره چه په سویډنی ژبه لږ پوهیږی، مخصوص کورسونه شته دی. که تاسی په سویډنی ژبه ښه پوهیږی نو تاسی کولای شی عمومی کورس او مشخص کورس مستقیما ولولی.

د غتو افرادولپاره د زدکړو په عمومی موسسه کی د زدکوونکی په حیث، تاسی دا حق لری چه د محصلینو د مرستی د مرکزی کمیټو (CSN) نه د زدکړی د معاش غوښتنه وکړی.

PASHTO

په
WWW.FOLKHOGSKOLA.NU
سایت کی تاسی کولای شی د سویډن
ټولی د غټو افرادولپاره د زدکړو
عمومی موسسی او د دوی
کورسونه پیدا کړی.

**www.folkhogskola.nu**

په www.folkhogskola.nu سایت کی تاسی کولای شی د سویډن ټولی د غټو افرادولپاره د زدکړو عمومی موسسی او د دوی کورسونه پیدا کړی.

د غټو افرادولپاره د زدکړوپه عمومی موسسو کی کوم مرکزی شاملیدل نشته. د غټو افرادولپاره د زدکړو هره عمومی موسسه خپل مکتب ته د شاملیدو لپاره خپل مسولیت اود شاملیدو خپلی خاصی فورمی لری چه تاسی د عریضی ورکولو په وخت کی د هغو نه استفاده کوی.
دغټو افرادولپاره د زدکړوزیاتی عمومی موسسی خپلی ویب پا ڼی لری چه هلته تاسی کولای شی مستقیما رازراز کورسو ته د شاملیدو درخواستی ورکړی. د مکتبو اینترنیټی سایتونه تاسی په www.folkhogskola.nu کی موندلای شی.

**سوابق**

دغټو افرادولپاره د زدکړو عمومی موسسی، د زدکړو یوه داسی طریقه ده چه په سویډن کی تر ۱۰۰ کالونه زیات موجوده ده. په سویډن کی دغټو افرادولپاره د زدکړو ۱۵۰ عمومی موسسی موجودی دی. له دی جملی نه تقریبا ۱۱۰ بابه د خلکو د مختلفو حرکتو او مختلفو خیریی موسسو سره تعلق لری. دغټو افرادولپاره د زدکړو تقریبا ۴۰عمومی موسسی، د ولایتی شوراګانو (landsting) او منطقو(regioner) له خوا اداره کیږی.

دغټو افرادولپاره د زدکړو عمومی موسسی بودجه د دولت او ولایتی شوراګانو له خوا تامین کیږی. د خلکو د زدکړو لپاره له مرستی نه د حکومت هدف دادی:

- داسی فعالیتو ته مرسته وکړی چه د دموکراسی تقویی او پرمختګ ته مرسته کوی،
- خلکو ته د دی امکان پیدا شی تر څو دوی په خپل ژوند باندی اغیزه وکړی او دوی د دی علاقه پیدا کړی تر څو د ټولنی په پرمختګ کی برخه واخلی ( مثلا د سیاسی، صنفی اتحادیوی، کلتوری یا کوم بل خیریه کار په وسیله)،
- د تحصیلی سویی د تفاوت د لری کولو او په ټولنه کی د تحصیلی او پوهنی سویی د لوړولو لپاره مرسته وشی.
- د کلتوری ژوند سره دعلاقی او په هغه کی د ونډی اخیستلو د پراخولو سره باید مرسته وشی.

Folkhögskolornas informationstjänst, FIN
**Postadress:** Box 380 74, 100 64 Stockholm **Tel:** 08-796 00 50 **E-post:** info@folkhogskola.nu www.folkhogskola.nu